دژباړونکی یادداشت:

د سوکالۍ له پاره نړیواله جګړه د هغه په زړه پورې او د لوستلو وړ کتاب عنوان دئ، چې د المانی لیکوال، ګابور شتاېنګارت له خوا د روان کال د سپټمبر په ۱۴ نېټه، خپور شوی دئ. خو د هغه لنډیز د لومړی ځل له پاره د همدې میاشتې په یوولسمه نېټه د المان په نامتو مجلې، شپیګل کې خپور شوی و. د کتاب او یا د هغه د لنډیز په لوستلو سره سړی ته روښانه کیږي، چې په نړیواله کچه یوه نوې نړۍ او له هغه سره جوخت نوي اقتصادي ځواکونه، چې د پخوانیو هغو د له منځه تللو په مانا ده، د رامنځته کیدو په حال کې دي. سربیره پر دې په دې مضمون کې ځیني نورې مسألې لکه: د نړیوال کیدو پروسه له ماتې سره مخامخ ده، اسیا خپله برترې ننداري ته وړاندې کړې، د چین د ازاد بازار رهبري شوی اقتصاد وده او د هغه بدلیدل په نړیوال ځواک، د اروپا کارځواک خپل ارزښت له لاسه ورکوي، لویدیځ باید له ځانه دفاع وکړی، که نه نو له ماتې سره مخامخ دئ، هم مطرح شوې دي. نو ځکه د موضوع د دغه ارزښت او نویوالی له امله مې اړینه وبلله، څو د دغې موضوع لنډیز، یانې د مجلې رپوټ په ټولې امانت دارې او یو څه ازاده توګه د هیوادوالو د خبرتیا له پاره له المانی ژبې څخه پښتو ته وژباړم .

لیکوال: ګابور شتاېنګارت Gabor Steingart
ژباړونکی: شریف بهاند

# د سوکالۍ له پاره نړیواله جګړه

## لومړې برخه

که څوک په مدرنې وړاندوینې واکمن وئ، هغه به د المان د مک کنزی McKinsey د کنسرنې، چې ښایي په راتلونکې کې په نړیواله کچه د سلا و مشورو دنده په غاړه واخلي، برحاله مشر، یورګین کلوګه Jürgen Kluge وي. د نوموړی د کار وسایل جادویي بڼه نه لري، بلکې یو کمپیوتری سستیم، چې "تولیدی شبکه Produkction Netzworks" نومیږي، دئ. دغه سستیم د نومړي او د دارمشتد Darmstadt (د المان یو ښار) د تخنیکي پوهنتون له خوا رامنځته شوی دئ.

یورګین د خپل څه نا څه تړږمې ته ورته دفتر، چې د برلین د ښار د مرکز د کوفوستردام په سیمه کې دئ، پر دیوار د نړۍ یو نقشه رڼا کوي، څو په ښه توګه ولیدل شي او بیا موږ ته وایي: "تاسو په دې پوه یاست، بهر څه پیښږي". پر دیوار د نړۍ له رڼا شوې نقشې څخه یوه کرښه د میز پر سر د ځای په ځای شوی کمپیوتر له لارې د دیلي په سویل کې له پراته ښار سره نښل شوې ده. هر شیبه یو شمېر هندیان، چې د دوي له پاره ورځ ده، د دغه سستیم په کارولو سره، زموږ له پاره نوي مالومات چمتو کوي. دوي د نړۍ له ۱۸۲ هیوادونو څخه د مزد د کچې، مالیاتو، ګمرکي او ترانسپورتي لګښت په اړه نوي اطلاعات او مالومات راټولوي؟ سربیره پر دې په دغو هیوادونو کې څوک حکومت کوي؟ احتجاج کونکي څوک دي؟ د کارګري ټولنو مشران څومره ځواکمن دي؟ په لنډه توګه: د هغه چا له پاره، چې غواړي یو چیرې پانګه اچونه وکړي، یو هیواد څومره باثباته دئ؟ "تولیدی شبکه" د سترګو په رپ کې ځواب ورکوي. دغه سستیم وړاندوینه کوي، چې د بیې له مخې د موټرو د ګېربکس د مهمو پروژو تولید، د چک په هیواد کې ترټولو مناسب دئ. او ښه به وي، که موټر په چین او یا مکسیکو کې مونتاژ کړي شي. کمپیوټر چې د هر هیواد سپارښتنه کوي، د هغه هیواد نوم پر دیوار باندې د رڼا شوې نقشې پر مخ پیل په سترګک وهلو کوي. دغه سستیم سپارښتنه کوي، چې د هر ډول فولادو د تولید له پاره ترټولو مناسب هیواد، هند دئ. سستیم د لاتینې امریکا له پاره د توکرو د تولید ترټولو مناسب هیواد بنګلادیش بولي. د کمپیوترونو د تولید ترټولو ښه هیوادونه تایوان، چین او یا مالیزیا دي. زیاتره د لری ختیځ هیوادونه دي، چې دغه سستیم د هغو سپارښتنه کوي او ترټولو دمخه په هغو کې [د وګړو له مخې] د چین او هند میلیاردي هیوادونه راځي.

یورګین کلوګه وایي: "ډیر لږ پیښږي، چې د المان نوم د نقشې پرمخ راڅرګند شي". وروستی ځل هغه وخت و، چې یوه شرکت په المان کې د سړکونو د جوړولو له پاره زیاتې اندازې چغل ته اړتیا درلوده.

"تولیدی شبکه" د پانګې اچونکو ترمنځ یو راز ته ورته ده او د المان د صنایعو د خاوندانو ترمنځ ډیر خوښونکي لري. پانګه اچونکي یو په بل پسې دلته راځي او د مک کنزی د همکارانو په مرسته ځانونه د نړیوالو کیدو تیارې نړۍ ته سپاري. د دغې کنسرنې یو کارکونکی په ویاړ سره، چې هغه هم نه پټوي، وایي: "موږ له پانګه اچونکو سره مرسته کوو، چې دوي خپلې ستونزې له ځان سره یو ځای کډوالې کړي".

په دې توګه راتلونکې نړۍ د لیدو وړ ګرځي او موږ کولي شو په دې ډول سره د شتمنې او ځواک یوه نوې نقشه ووینو، چې د لویدیځ خلکو له پاره له ځانه سره ښه خبر نه لري. ځکه د اسیا راپورته کیدل د دوي د زوال په مانا ده.

ژوند لا نور ستونزمن کیږي، په تیره په هغو ځایونو کې، چې د نقشې پرمخ نه راڅرګندیږي. پانګه اچونکي کډه کیږي او سوکالي په هغوي پسي روانه ده. هغه پانګه اچونکي چې نه شي کولي کډه وکړي، د هغوي تر منځ ویره خپریږي. که څه هم د وړاندې کونې او غوښتنې (عرضې او تقاضا) په برخه کې مثبته ویره یو څه شاته غورځي، خو د ویرې دغه ځندیدل یوازې په دې دلیل دي، چې هغه له یو څه مودې وروسته په لا زیات شدت بیرته راګرځي.

همدا اوس د ډیرو المانانو له پاره راتلونکې د ګواښ یوه ټولګه ده. او هغه د وزګارۍ، د کورنۍ د خورو وروکیدو او فردی شتوالی ګواښونه دي. د لاسي صنایعو له منځه تلل، د بومی منځنی قشر ورشکست د لا زیاتې وزګارتیا او د مزد او نورو امتیازونو کمیدل د دوي تر منځه او ان د هغو ترمنځ، چې تر اوسه له دغه حالت څخه خوندي پاتې وو، ګواښ زیاتوي. هغوي ته چې ګواښ نه و پیش، اوس ورسره مخامخ دي.

لویدیځ سیاستوال د دغو ګواښونو په وړاندې په ناراحتې او متضاد حالت سره غبرګون ښیي. دوي د نړیوال کیدو د ښیګنو ستاینه کوي، چې په عین وخت کې خپل رایي ورکونکي راتلونکی بدلون ته چمتو کړي. رایي ورکونکو ته د نړیوال کیدو د پوهاوی د اغیزمنې پیژندنې په اړه اندیښنه، په خپله د دغه پوهاوی د له منځه تلو لامَل ګرځي. نظرپوښتونکې ادارې په یوه خوله له یوې ناډاډمنې ټولنې څخه خبرې کوي، چې ارامی به ترلاسه نه شي کړي. خلک دغه حالت احساسوي. دوي له یوې داسي نړۍ څخه خاطرې په زړونو کې لري، چې ښایي ډیر ژر به هغه نوره نه وي. هغه څه چې په اسیا کې پیښږي، هغه د اوسمهال دوام نه، بلکې یو نوی پیل دئ.

کله چې مو له ریشارد هېلمر Richard Hilmer د انیفراتست Infratest dimap د احصایې د ادارې له مشر څخه وپوښتل، هغه شمېرنې چې تاسو په خپل واک لري، د هغو پر بنسټ موږ ته ویلي شې، چې خلک کومې بیړنۍ غوښتنې لري، هغه یوه شیبه پټه خوله پاتې شو، بیایې وویل: "اکثریت د یوه اقتصادي ژوغورندوی په هیله دي".

ښایي د نوی نوم اېښودل وکړی شي، له واقعیت سره یو څه مرستندوی شي. لویدیځ کولی شي، اسیایي هیوادونه سیال یا د پخوا په څیر د پرمختیایي هیوادونو په نامه یاد کړي، خو سمه به دا وي، چې دغو هیوادونو ته په هغو سترګو وګورو، چې هغه [اوس] ترټولو دمخه له اقتصادي پلوه پرمختلونکي (تیري کونکي) هیوادونه دي.

هغه څه چې له جاپان څخه پیل د سینګاپور او هانګ کانګ د ښارې ـ دولتونو له سره تیر او بالاخره د اسیا د زمریانو [په نامه] دولتونو، سویلی کوریا او تایوان ته په رسیدو سره د اسیا له دغې برخې څخه، چې د عالی متمرکزې انرژۍ خاوندان دي، یوه اقتصادي سیمه جوړه کړه. دوي ټولو د سوکالۍ لاره غوره کړې، چې ښایي بالاخره د نړۍ سیاسي، اقتصادي او یو څه وروسته پوځي جوړښت ته بدلون ورکړي.

دا ترټولو دمخه د زیاتو وګړو هیوادونه دي، چې د سترو اقتصادي لاسته راوړنو له پاره هاند و هڅه کوي. که د دوي په دغې غوره شوې لار کې کوم خنډونه رامنځته کړي نه شي، چین به په راتلونکو ۳۵ کلونو کې د اقتصادي ځواک په توګه د متحدو ایالتونو ځای ونیسي او هند به له هغه سره اوږه په اوږه مخ په وړاندې درومي. کابو دوه نیم میلیارده انسانان، د اروپا د هغو له پنځه برابرو څخه زیات، په دې هڅه کې دي، چې په خپل تاریخ کې د نیکمرغې ډک بدلون رامنځته کړي.

د تیرو کلونو بریاوې د اغیزمنو بدلونونو ښکارندوي دي، چې د اقتصاد تاریخ په خپلو سترګو نه دي لیدلي. انګلیسانو شپیتو کلونو ته اړتیا درلوده، چې د سړی سر نا سوچه (ناخالص) ملی تولید اندازه دوه برابره کړي، د امریکا متحده ایالتونه او جاپان څه نا څه د څلویښتو کلونو په ترڅ کې په دې کار بریالي شول، اندونیزیا په اولسو کلونو کې او چین یوازې په دولسو کلونو کې دغه موخه ترلاسه کړه.

لکه څنګه چې د المان پخوانی لومړی وزیر، هلموت شمیت Helmut Schmidt ویلی: موږ [د ملتونو] د غیرعادی خوځښت د ناڅاپی پیل اوسمهاله شاهدان یو. له دوهمې نړیوالې جګړې وروسته د نړۍ د ثقل مرکز له اروپا څخه د امریکا په لوري وخوځید، څو له هغه ځایه د اسیا خواته وخوځیږي. په دې توګه د لویدیځ د برترۍ پېر د پایته رسیدو په حال کې دئ.

کوم صنعتي کول، چې په اتلسمې پیړۍ کې په اروپا کې پیل شول، د پانګه وال نظام بنسټ یې رامنځته او په لویدیځ کې د خپلې ودې لوړ پړاو ته ورسید. یو چټګ مخ په وړاندې خوځښت پیل شو، چې په لومړی سر کې یې اروپا او بیا وروسته متحده ایالتونه له پاتې نړۍ څخه جلا کول.

تا به ویل، چې لویدیځ په یوې اور اچول شوې پلتې پورې تړل شوی او هر چیرته لمبې او څرک خپروي. یوه ایتالوی په کال ۱۸۰۰ کې بطری او یوه فرانسوی د کنډلو ماشین اختراع کړ. په کال ۱۸۳۸ کې انګلیسانو له یوې سترې اوسپنیزې بیړۍ څخه په اوبو کې کار واخیست. د نولسمې پیړۍ په پای کې عکس اخیستنه رامنځته شوه. څه نا څه د اروپا د وچې ټولو ملتونو، ان وړو هیوادونو، د صنعتي کولو د بریاوو له پاره هاند و هڅې تر سره کړې. یوه سویدنی دینامیت او یوه بوهمی [د چک یو ولایت] د بیړۍ د څرخ پرې اختراع کړې.

هندیان او چینایان، چې تر ۱۵۰۰م کال پورې یې د سړی سر عاید د اروپایانو په کچه و، د سوکالۍ پر سر سیالې کې ستر بایلونکي شول. پوهې هر اړخیزه پراختیا ومونده، خو نه د دوي په هیوادونو کې. اقتصاد وغوړید، خو له دوي څخه ډیر لرې. بشریت له تکنالوژۍ څخه په بې برخې ملتونو او هغو ملتونو، چې د جادویې وسایلو خاوندان وو، ویشل شوي و.

د فرانسوی اقتصاد پوه، فرانسوا پريو Francois Perroux په اند، پر نړۍ باندې اقتصادي واکمنې ډيره زياته موده د بريتانيا په لاس کې وه. له دوهمې نړيوالې جګړې وروسته متحده ايالتونه "د نړۍ د ښاغلی" په توګه دغه ډګر خپل کړ، چې اوسمهال دغه هيواد شأ تک ته اړ شوی دئ.

د لويديځ اقتصادي ماشين به په راتلونکي کې هم ځواکمن پاتي شي، خو نور به ترټولو ځواکمن نه وي. لويديځ ارزښتونه، د بيلګې په توګه ولسواکې او ازادی به خپل اعتبار ولري، خو نه د نړيوالو ارزښتونو په توګه. ژوند به په نيويارک، پاريس، لندن او برلين کې دوام وومومي، خو په لری ختيځ کې يو نوی عالی کلتور رامنځته کيږي، چې کيدای شي دغه ځان خبری په اسانی سره په تکبر واوړي.

لويديځ تر نن پورې له دغه ګواښ څخه کومه شننه نه لري. مبارزې ته د رابللو په مهال د نړيوال کيدو پلويان او مخالفين په خپله تيروتنه کې سره يو دي. د نړيوال کيدو پلويان ګمان کوي، چې دوي کولي شي، د پانګې د نړيوال بازار په مرسته، له هر ډول ګواښ څخه پرته، خپل بازار ته لا نوره هم پراختيا ورکړي. ډير په دې باور دي، چې د دې پروسې پرمخ وړنکي بې له هغه هم کټونکي دي. د نړيوال کيدو مخالفين هم نړۍ ته په همدې سترګه ګوري، خو يوازې د هغو عينکو له شأ، چې بل رنګ لري. د دوي له پاره د نړيوال اقتصاد دغه تړلتيا (ادغام) همدارنګه د دريمې نړۍ د ښکيلاک په مانا ده. د نړيوال کيدو د مخالفينو له پاره، ته به وايي لويديځ دولتونه د طبيعت د قانون پربنسټ تل کټونکي دي.

خو په حقيقت کې د سوکالۍ له پاره د نړيوالې جګړې وړنکو او بايلونکو خپل رول [ځاي] بدل کړی دئ. د لری ختيځ د هيوادونو نوی ځواک د لويديځ د هيوادونو کمزورتيا ده. دا د المان د لومړې وزيرې مرستيال او د دغه هيواد د کار او د ټولنيزو چارو وزير، فرانس مونټيته فرېنګ Franz Müntefering و، چې تيره اونۍ يې په يوه نړيوال کنفرانس کې د کار د سختو شرايطو په اړه خپل يو شمېر اسيايي سيالانو ته يادونه وکړه: د وخوره او ممره مزد، غير معمول معاشات او د کار سخت شرايط د منلو وړ نه دي"موږ حق نه لرو له سيالۍ څخه د يو او بل د له منځه وړلو په موخه کار واخلو". خو په کنفرانس کې حاضرو وزيرانو خپل غوږونه ګانه واچول.

هغه هيوادونه، چې اوس په نړيوال ځواک د بدليدو هاند و هڅه کوي، تر هغه څه ډير اغيزمن دي، چې شوروی اتحاد و. د دوي بنسټ د ميليونونو انسانانو پر هاند و هڅو ولاړ دئ، نه د ګوندي فعالينو پرتبليغاتو. د دغو خلکو ترټولو مهم خلاقيت بل شی نه دئ، دوي غواړی خپل تاريخ ته يو نوی او ځلانده څپرګی ور زيات کړی.

موږ د هغو کسانو په سترګو ځان ته ګورو، چې پرته له ځان غوښتنې او شک څخه يې هوډ کړی، وروسته له دې خپل موجوديت، د سوکالې د ګراف په وروستې برخه کې و نه ويني. د لويديځ د صنعتي هيوادونو ټولې ويرې، چې ټولنيزې ناارامې او د چاپيريال ساتنې ستونزې به د چين خارق العاده وده، له خنډونو سره مخامخ کړې، پټې هيلې وي، چې تر اوسه ترلاسه شوي نه دي.

ان د لويديځ هغه هيوادونه، چې د صادراتو مازاد لري، نور نو په نړيوال اقتصاد کې د برياليو دولتونو په ډله کې نه شمېرل کيږي. د المان د صادراتو له برياوو ډک داستان هم يو له ماتې سره مخامخ داستان دئ. ځکه د هغه شی بيه، چې المان يې د صادراتو دويم مقام ته رسولی، دننه په المان کې ټاکل کيږي. په نړيوال ډګر کې د سيالۍ ځواک او دننه په هيواد کې د کارګرانو وزګارتيا د يوې سکې دوه مخه دي.

يو کارګر په بل پسی د ملی اقتصاد د څانګو پريښودو ته اړ او وزګار کيږي. د تعادل د رامنځته کيدو له پاره بايد نور خپل سرعت لوړ کړي. د ملی اقتصاد ډيرې څانګې د زياتو ګټو خبر ورکوي، خو دولت د ژوغورنې په کارونو لګيا دئ. دنده يې له هغو ډوب شوو انسانانو سره مرسته ده، چې پرون دوي ته د زياتو صادراتو وياړ ور په برخه و، خو نن وزګار دي. دوي خپل ژوند له ټولنيزو مرستو، هارڅ څلور، تأمينوي.

هيڅوک په دې نه پوهيږي، چې د ملتونو د ډلې په سر کې به د اسيايانو دغه اغيز له برياوو ډک وي او د دوي دغه برياوې به نورو ته په کومه بيه تمامه شي. څوک چې کولی شي ووينې او احساس وکړي، وينې او احساس کوي، چې اسيا تکان خوری. تاريخ مخ په وړاندې روان دئ. د يوه ستر ځواک له منځه تلل، د بل ستر ځواک له رامنځته کيدو سره مل دئ.

د اسيايي فابريکو او پوهنتونونو تجهيز ښايي د سړې جګړې له پړاو څخه زيات د متحدو ايالتونو او اروپا د بدلون لامَل شي. سړې جګړې لويديځ سره يو موټی کړ. د بيلا بيلو ملتونو او قومونو هيوادونه سره يو موټې شول، لومړی په ايديالوژيکه (روح کې) توګه او بيا وروسته د شمالي اتلانتيک (ناتو) په تړون کې.

که څه هم د شمالي اتلانتيک د دواړو غاړو کنسرنو يو له بل سره سيالې کوله، خو د دوي دغه سيالې خپل منځې وه. دوي شريکې خو په عين وخت کې سيالې هم وې. د فورد او جنرال موتور کنسرنې پراخيدې، له هغوي سره جوخت فولکس واګون او فيات هم. د ګولدمن زاکس Goldman Sachs او سېټي ګروپ Citigroup کنسرنې ټولې نړۍ ته پراخې شوې. دوچې بانک او کريدت ليون هم ور پسي چټګ روان وو. د ډالر تر سيوری لاندې المانی مارک ارزښتمنه پيسه شوې وه.

د چين، شوروی اتحاد، بلغاريا، رومانيا، هنګری، د المان د ديموکراتيک جمهوريت، يوګوسلاويا او هند په ميلياردونو انسانانو، چې د کارکولو وړ (مستعدبه کار) وو، د لويديځ له پاره نه د کاليو (متاعو) په بازار کې سيالان وو او نه هم

د کار په بازار کې شریک ګڼل کیده. دوي کار او ژوند کاوه، خو په یو بل کهکشان کې، چې هغه هم د لویدیځ له پاره شتوالي نه درلود.
له همدې امله لویدیځه نړۍ په منظمه توګه پرمخ روانه وه. ځکه د نړۍ په یوې بلې برخې کې وضعه خرابه وه. په لویدیځ کې ژوند روغ رمټ و، ځکه هغه یو بل چیرته له ستونزو سره مخامخ و. د لویدیځ دغه نړۍ اوس دړې وړې شوې ده.
په دې وروستیو کلونو کې د لویدیځ پر برلاسۍ ډېرو خپل باور له لاسه ورکړي او ان د دوي د اقتصادي سیاسي نظام اغیزمنتیا هم هغه ادعا ده، چې نوی ثبوت غواړي. ولسواکي تر هر وخته اوس ازاد بازار ته ترجیح ورکوي، خو دغه کړون دوه اړخیزه نه دئ. اړینه نه ده، ازاد بازار ولسواکۍ ته ترجیح ورکړي.
ویره د پراختیا په حال کې ده، ناوړه وړاندوینې مخ په زیاتیدو دي، چې په ساده توګه د خلکو له زړونو څخه نه وزي.
د ۲۰۰۴ کال د اپریل په میاشت کې د عوامو له نظره پټ د یو شمېر پانګه اچونکو بانکونو د مشرانو، په دولتي چارو کې د سلاکار وزیرانو، پخوانیو وزیرانو او د اقتصادي چارو د لاربنودو له خوا د المان د بهرنی سیاست د ټولنې په ودانۍ کې یوه باارزښته غونډه، چې موضوع یې "چین نوی اقتصادي ځواک" وه، ترسره شوه. په غونډه کې خبرې اترې په ډیره صادقانه او بربنډه توګه تر سره شوې او وویل شو، چې چین یو ګواښ دئ.
د زیمنس د کنسرنې د اسیایي څانګې د مرستیال د وینا له مخې، په المان کې له چین سره دا ډول مینه ښودل د نړۍ په کومه بله برخه کې پرته له شرایطو انعکاس نه مومي. د المان د بهرنی سیاست د ټولنې د مشر، ایبرهارد زانشنېډر Eberhard Sanschneider په اند، په المان کې دا ډول خبرې اترې تر ټولو دمخه د المان د اقتصادي ګټو له پاره تر سره کیږي، نه د چین په اړه.
د امریکا په متحدو ایالتونو کې د چین د سیاسي مسألو او اقتصادي ځواک د زیاتیدو په اړه "اخطارونه" ورکول شوي، د چین ودې په جاپان کې نارامې رامنځته کړې دي، په منځنیو هیوادونو کې هم " دغه هیواد د یوه ګواښ په توګه ګڼل" کیږي.
د المانی کار پوه ایبرهارد زانشنېډر، په اند:"اوسمهال باید چین د لویدیځو [هیوادونو] د مقرراتو مراعات وکړي. خو په قوی احتمال په راتلونکو څو کلونو کې ښایي نور داسې نه وي، نو بیا به د لویدیځ له پاره اوبه له ورخه تیرې وي".
د غونډې پرتوکول وروسته د محرم [سند] په توګه د ځینو د مالوماتو له پاره وکارول شو.
د اسیایي هیوادونو دغې ننګونې (چلنج) په لویدیځ کې درز رامنځته کړی، ځکه لویدیځ کنسرنې، مخکې له دې چې له زیان سره مخامخ شي، د لری ختیځ له دولتونو او کنسرنو سره راکړه ورکړه کوي. دوي د تولید په شرایطو کې له رامنځته شوی بدلون څخه ګټه اخلي. پانګه وال هغه ځای ته ځي، چې د پانګې ګټه (سود) یې له بل هر ځایه زیاته وي. پانګه وال د خپلې فابریکې بنسټ د خرما تر ونو لاندې ږدي او یا د اس نعل په هغو سیمو کې تولیدوي، چې تل کنګل وي. مهمه دا ده، چې د کال په پای کې په خپله کسه کې د کال له پیل څخه زیاتې پیسي ولري.
د پانګې ترټولو مهمه موخه هماغه د ځان زیاتوالی دئ. که برعکس په پانګه کې کموالی راشي، هیڅا ته یې ګټه نه رسیږي. په تیره کارګرانو ته. اکثراً د پانګې په کمیدو سره، کارځایونه له منځه ځي. لومړی په ورځپانو کې د خراب منجمنت خبر خپریږي، بیا د هغه د لاسته راوړنو خبرې کیږي او د بحران کلمه راپورته، وروسته بیا رغونه او سازماني تدابیر پیل کیږي، پایله یې د یو شمېر کارګرانو ویستل دي.
په وروستي ارزونې کې د بوختیا پایښت په ښکاره توګه په دې ساده پوښتنې کې لنډیږي، چې د کار ځای د له منځه وړو پرته، بل ځواب نشي ورکول کیدي. کیدی شي پانګه زیاته کړي شي؟ هیڅ پانګه وال نه غواړي ووینې، چې پانګه یې ورځ په ورځ د کمیدو په حال کې ده. که له انتظار څخه پرته دا ډول چلندوکړی، نور نو پانګه وال نه دئ.
پانګه او پانګه وال سره یو دي. یو له بل څخه پرته نشي کولي ژوند وکړي. دوي په یو بل کې وېلي او یو له بل څخه نه بیلیدونکي دي. دولتونه لکه [پخوانی] د المان دیموکراتیک جمهوریت، چې هڅه کړې وه، پانګه د هغه له خاوندانو څخه واخلي، له خپل دا ډول کړو وړو په کلکه پښیمانه دي.
د کار او کارګر تر منځه دا ډول ګډ ژوند (همزیستي) نشته او دا له هماغه پیل څخه د کارګرانو یوه منفی ځانګړتیا وه. دوي ځي او راځي، کیدای شي له پولو (سرحداتو) څخه وشړل شي. خو شوني نه بریښي، د دوي کار د پولوساتونکو سرتیرو له خوا ودرول شي. دا چې لویدیځ دولتونو وکولي شول، د کار بازار څو پر له پسي لسیزې په خپل منځ کې سره وساتي، د سړې جګړې له پړاو وروسته له عجایبو بلل کیږي.

نور بیا

اخځای:
Der Spiegel, Nr.: 37/11. 9. 2006, S. 44-75